محمد یار یار

۲۰۲۰/۰۹/۲۴

# غزل



د خپل وجود جلسې ته ورغلم بلا مې وکړه
د زړه دریځ ته مې ور وختم وینا مې وکړه

شوم د مایوس ذهن تالار ته ناقرار دننه
د مړاوي فکر ګډونوالو تسلا مې وکړه

د سرو رګونو سمندر ته مې ځان غرق ننویست
د خونړي توپان په تل ـ تل کې لمبا مې وکړه

سکون تقسیم او اضطراب مې که را ټول له ښاره
د زماني لېونی ګورئ! څه سودا مې وکړه!

دا بې حیا مخلوق نو کله په سلام ارزېده
مګر نو څنګه یې کوې! خپله حیا مې وکړه

د خپلو سترګو سکرین مې وکسه قسم ومنه
د عشق د بل رنګه رازونو تماشا مې وکړه

په غم اخته، په ژوندون مړه مې سره وخوځول
په زخمي زړه شوه قهقهه، مسته خندا مې وکړه

۱۶/۸/۱۳۹۷ -کابل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ